## د تړون د ورکولو د پرېکړې خبرتیا

**موضوع:** د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمریت لپاره د پرنټرونو، سکنرونو او فوتوکاپی ماشینونو چمتو او تدارک کولو پروژې تړون د معین پوپل لوژستیکي خدماتو شرکت ته د ورکولو د پرېکړې خبرتیا.

د ملي تدارکاتو ریاست د (20580) شمېرې او 1447/12/27 نېټې د متحدالمال د دویمې مادې د (6) بند پر بنسټ ټولو ته خبر ورکول کېږي چې د افغانستان بانک په پام کې لري څو د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمریت لپاره د پرنټرونو، سکنرونو او فوتوکاپی ماشینونو چمتو او تدارک کولو پروژې تړون د معین پوپل لوژستیکي خدماتو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د D-54824 شمېرې جواز لرونکې او اصلي استوګنه یې د کابل ولایت، شهرنو د اتصالاتو کوڅې شاته دی د تړون ټولیزه بیه /6,947,090- شپږ میلیونه نه سوه اوه څلویښت زره او نوي افغانۍ ده.

هر هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه کومه نیوکه ولري، کولای شي خپله نیوکه د اعلان د خپرېدو له نېټې څخه تر **پنځو (۵) تقویمي ورځو** پورې، په لیکلې بڼه، د دلایلو او مستنداتو په ملتیا، د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې د کابل په **ابن سینا واټ** کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په معنا نه ده، او تر هغه چې پورته یاده شوې موده پای ته ونه رسېږي او ورپسې ټول قانوني مراحل بشپړ نه شي، تړون به نه عقد کېږي.